محمد یوسف صابرساپی

۲۰۲۱/۱۱/۲۹

# تـشــدد مقاومت زيــږوي

د افغاني ټولنې د بېشمېره ستونزو د ګرداب په منځ کې، تر خپلواکۍ وروسته، دوه خورا ستري او جدي ستونزې اوږد مهاله خصلت لري:

- باثباته سوله او امنيت،
- په ځان بسيا اقتصاد او پرمختګ

سره ددې چې طالبانو د خپل راتګ سره، د سرتاسري سولې پيغام راوړ، اما د جګړې بيره لا د هيواد په سر ولاړه پاتې ده. دا بيره يواځې پدې اساس نه ده، چې مار چيچلی د پړي هم بيريږي- جګړه ځپلی افغان ولس د جګړې د نوم څخه هم بيره لري، د جګړې څخه بيره عيني بنسټونه لري. د باثباته سولې په وړاندې د خنډونو هماغه دوه غوره بنسټونه : بهرني او دننني ګواښونه لا په ځای پاتې دي، د سولې پرته ترقي او سوکالي هم نشته.
سربيره پردې چې د سولې له پاره د افغان ولس ټينګې ارادې د هيواد د دننيو قواوو ريښتينی وزن وښوده، چې ټولونړيوالو په خپلو سترګو وليد. اما د زبرځواکونو د سياليو په متن کې، د مخالفو ډلو بيا تمويل، انسجام او استخدام د هيواد او سيمې د سولې او سوکالی له پاره باظرفيته ګواښ دی. لدې عيني ګواښ څخه سترګې پټول، په سياسي لحاظ ساده ګي او په تاريخي لحاظ لنډ حافظي ده.
طبيعي ده، چې کمزورې رقيبې ډلې، د خپل قوت د خلا پوره کولو له پاره بهرنيو پوځي مرستو ته لاس اوږدوي لکه کيڼ اړخو، چې د ښي اړخو په مقابل کې شوروي پوځي مرستو ته ودانګل، لکه يو ځل، چې شمالي ټلوالې د طالبانو په مقابل کې امريکايي يرغلګرو سره لاس يو کړ... همدغه ډول خطر اوس هم عملاً وجود لري. د زور په غرور سترګې پټول ددې معنی نه لري، چې دا ډول ګواښ وجود نه لري. د بهرنيو او دننيو ګواښونو هراړخيز، دوامداره او درست تحليل، درک او په پام کې ساتل د با ثباته سولې او سوکالۍ په لور مزل لنډوي.
څرګنده ده، چې چل د زور ملا ماتوي. سياست د ټولنې د ادارې چل او ول دی. دا چل او ول هر چا ته نه ورځي. هر عالم او روحاني د سياست د علم او فن ماهر هم نه دی. په دين کې اکراه نشته، چل ول نشته، مستقيمه لار ده. په ديني چارو کې اکراه، جبراو کوږوالی د قراني احکامو څخه څرګنده، اګاهانه يا غير شعوري سرغړونه ده. اما سياست د رضا، زور او ډيرو نورو چلوټو پرته بريالی پرمخ نه شي تللی. همدلته د دين او سياست پولې سره جدا کيږي. لوړ ديني مقام- منبر دی، لوړ سياسي مقام – د دولت مشري ده. د منبر معنوي مقام تر دولتي مقام ډير لوړ دی، خو چې څوک پرې پوه شي. د کائيناتو په تقويم کې د بشريت د عمل او نظر اساسي کرښې( حدود الله) په قرآن عظيم شان کې نغښتی پرتې دی، چې ټول يې طوعاً او کرهاً ( په اختيار او جبر) تابع دي، څوک يې مني او که نه يې مني، څوک يې درک کوي او که څوک يې نه شي درک کولای.
په زور ډير څه کيږي ، اما ټول څيزونه په زور نه کيږي. علم او عمل ثابته کړې ده: هر څومره چې په ټولنه کې تشدد او زور پکارول کيږي، په همغه اندازه د پکارونکو په مقابل کې مقاومت راپيدا کيږي. پښتو متل دی. کلی په زور نه کښيني. شوروي او امريکايي زورمندانو د افغانانو کلي ورانولی وشول، اما په زور يې کړارولی ونشول. تشدد د باثباته سولې وسيله نه ده، تشدد شعوري مقاومت را زيږوي، ځکه د شعور پرته، د تيريدو بله لار نه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

که شوروي او امریکایي پوځونو سره په جګړه کې، شورویان او امریکایان تیری کونکی یعني ظالمان او افغانان مظلومان وو، برخلاف د هیواد په دننه، د هیوادوالو پر شخصي حریمو باندې د مداخلې په صورت کې داخلي واکمنان تیري کونکي او ولس مظلوم ګرځي. د ملا عبدالسلام ضعیف د اووګونو مشورو څخه لومړنی سلا یې همدغه د شخصي حریم حرمت ساتل ؤ. شخصي حریم دا هماغه فردي آزادي ګاڼي دي، دا هماغه د بشر عام حقوق دي، چې هیڅوک، په هیڅ کتاب کې د تجاوز حق پرې نه لري. پر یو هیواد باندې د بهر له خوا تیری او د فرد په شخصي حریم تیری دواړه تیري دي، دواړه مردود دي. د مثال په ډول، (د نن ټکی اسیا د شنبې، ۸ لړم، ۱۴۰۰ل د خبر له مخې: د ننګرهار په سره رود ولسوالی کې امنیتي ځواکونو په یوه واده کې د موسیقی د غږولو پر سر ۱۲ کسانو ته مرګ ژوبله اړولي ده.) دا هماغه د امریکایي ړندو بمباریو ته ورته کار دی. ددې دولسو کسو په مرګ ژوبله په سلګوني نور خپل- خپلوان درديږي او د دا ډول ظلم په مقابل کې مقاومت ته راهڅیږي. د یو انسان وژنه دومره مقاومت رازیږوي لکه یودانه غنم، چې په ځمکه وکري، یو دانه تخم څخه یو وږی غنم را پورته کیږي. تشدد په ټولنه کې اختناق رامنځته کوي او اختناق چې زیات شي، بالاخره انفجار کوي.

برخلاف، عدم تشدد او سوله ییزې چارې د انسانانو تحت شعور څخه هم تیریدلای شي، نو ځکه کیدای شي، چې مقاومت هم ونه زیږوي. په پرمختللو هیوادونو کې د همدغه انساني خصوصیت په درک سره، د تشدد د پکارولو څخه، په ښکاره صرف نظر کیږي. خپلو اهدافو ته د رسیدو له پاره د رضا لارې او چلونه مخالفت نه را پیدا کوي.

منبر، ډله ایيزې رسنۍ او معارف د سوله ییز آغیز خورا غوره وسایل دي. د منبر څخه سیاست ته راکښته کیدل- په خپله غورځیدل دي، تنزیل مقام دی. د ایران اخوندانو منبر په خپل اختیار کې وساته، دادی ځلویښت کاله یې سیاسي قدرت هم ساتلی وشو. پدې منځ کې، معارف د ټولني د وضعیت، د سمي اداري او پرمختګ اصلي او غوره پارامتر او شاخص دی، چې د همدې مقیاس په ذریعه د ټولني صعودي او یا نزولي سیر ټاکل کیږي.

ددې نه لیدونکو مسایلو د معرفت له پاره پکار ده، چې اعتراف وشي: د کائیناتو نظم د انساني درک څخه په خورا لوړه کچه جوړ شوی دی. الهي احکام انسان ته، د کائیناتو د خورا کوچني جزُ په توګه بیا واضیح او روښانه دي. ټول دګمونه او فناتیزم د انساني ناپوهی او یا د شیطاني غرضونو محصول دي. هر څومره چې معارف او پوهه لوړه ځي، هغومره د کائیناتو د نظم، یعني د الهي نظام سره سم چلند ته زمینه برابریږي.

په هیواد کې که د معاصر معارف تعمیم له پاره زمینه برابره شي، ټولنه په خپله ارتقایي سیر غوره کوي. اګاه ولس دیکتاتور نظامونه، چې د ټولني د پرمختګ مخه نیسي، په ځان حاکم نه شي زغملی. برخلاف که د ټولني د اګاهي مخه په هر نامه ونیول شي، ټولنه د انحطاط لوری غوره کوي، د سیاسي واک بدلون هم ورسره حتمي دی.

ټولنیز بدلون او پرمختګ، د انسان د ارادې څخه بهر یوه عیني پروسه ده لکه د روانو اوبو بهیر په څیر جریان مومي، انسان په کې چټک کونکی یا بطي کونکی رول لوبولی شي، ودرولی یې نشي. په ټولنه کې د معارف او پرمختګ د بهیر په مخ کې خنډ اچول داسي معنی لري لکه د روانو اوبو په مخ کې چې بند واچوې. بالاخره اوبه د بند په سر اوړي یا بند چپه کوي. په افغانستان کې د وروستیو لسیزو سیاسي بدلونونه د همدغه عیني قانون پر بنسټ رامنځته شوي دي. له بهرنیانو ګدایي- هیواد ترقي ته نه رسوي، بلکي د هغوی شومو اغراضو ته زمینه برابروي لکه عبدالرحمان بابا چې وایي:

که ګدا د بل په غولي غرض نه کا          سپی به نه کا په ګدا باندې غرض

کله چې له نړی ګدایي کوې ، نو نړی هم سپیان لري، درپسي به غاپي او کیدی شي ودې هم داړي!

د افغانستان په اوسني انجړ وضعیت کې، د بهرنیو د لاسوهنو مخنیوي له پاره، په خارجي سیاست کې ریښتینې ناپیيلې سیاست ضرور دی. د یو زبرځواک سره نژدې اړیکي، د نورو حریفانو حسرتونه راپاروي، په معاصر تاریخ کې یې مثالونه ډیر دي.

د ناپیيلي بهرني سیاست سره جوخت، په داخل کې د اوږدمهاله خودکفا اقتصاد په لور حرکت د بحران څخه د وتلو حتمي شرط ښکاري. زراعتي او صنعتي پیداوارو ته د خلکو اړتیاوې ښایي تر ممکن حده، د هیواد دننه پوره شي. د غلي کر له پاره د هیواد دننه د کافي څخه زیات امکانات شته، د هیواد خاوره د نفوس په تناسب خورا پراخه ده، خدایي رواني اوبه ډیري دي، یواځې سمه او فني اداره یې پکار ده. اما نن ورځ صنعتي پیداوارو ته د خلکو غوښتنې ډیري دي او د هیواد صنعت لا د زانګو څخه نه دی پورته شوی، تراوسه پورې للو للو ته ضرورت لري.

د خلاصون لاره په دې کې لیدل کیږي، چې لکه زیاتره اروپایي هیوادونه د صنعت د پرمختګ یو ځانګړې برخه په لاس کې ونیسي، کومه رشته، چې اومه توکي یې د هیواد په دننه کې موجود وي. د همدغې پرمختللي رشتې د پیداوارو په صادراتو د اړتیا وړ نورو صنعتي توکو د وارداتو پرداخت توان ترلاسه کیږي.

په لنډ مهال کې، د خودکفایي له پاره ښایي، نژدې ټولې دولتي اداري او موسسات په خپله عایداتي او خودکفا شي. د معارف او امنيتي ادارو پرته، نورې غیر عایداتي او غیر خود کفا اداري ښایي کوچنۍ یا بشپړ له منځه لاړې شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هیواد همدغه دوه غوره ستونزې یعني باثباته امنیت او اقتصادي پرمختګ په هیڅ ډول تشدد سره نه هوارېږي، برخلاف نورې هم زیاتیږي. د تشدد او عدم تشدد کړنلاره خورا باریکه لاره ده:

- د محکومیت په حال کې د ظالم، تیري کونکي په مقابل کې په عدم تشدد، عذر زاریو سره هیڅکله هم کامیابي ته نه شي رسیدلی. د هماغه معروف قول سره سم: حق اخیستل کیږي، بخښل کیږي نه. بریالیو مشرانو لکه ګاندي، ماندیلا ... کله کله د عدم تشدد څخه د مبارزې تکتیک یا سازش په توګه استفاده کړېده.

- برخلاف، د حاکمیت په وخت کې، د هیواد د ساتنې په غیر، تشدد په خپله ظلم دی، تیری دی، نو ځکه مردود هم دی.

بریالی واکمنی په زور ولاړه نه وي، بلکې د خپل پراخ اقتصادي او سیاسي ظرفیت په بنسټ ولاړه وي، داسې پراخ ظرفیت، چې په خپله سینه کې د هر ډول ستونزو د حل ګنجایش ولري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ